3. طرفین به منظور تقویت ثبات و رفاه منطقوی و احیای نقش تاریخی افغانستان به حیث پل ارتباطی آسیای مرکزی، جنوبی و شرق میانه به گونه آتی همکاری می نمایند:

الف. تقویت بیشتر ابتکارات کنونی و بعدی در منطقه از قبیل موافقتنامه های تجارت و ترانزیت و ایجاد سهولت در تطبیق آنها؛

ب. تقویت همآهنگی و مدیریت سرحدات میان افغانستان و همسایگانش؛

ج. توسعه ارتباطات ترانسپورتی ، ترانزیت و شبکه های انرژی در منطقه از طریق تطبیق پروژه ها بشمول پروژه های زیر بنائی، در سراسر افغانستان؛ و

د. بسیج حمایت بین المللی برای جلب سرمایه گذاری های منطقوی که موجب همگرائی افغانستان با منطقه میگردد.

## بخش پنجم: انکشاف اقتصادی و اجتماعی

1. طرفین موافق اند که انکشاف منابع بشری و طبیعی افغانستان برای ثبات منطقوی، رشد اقتصاد پایدار و احیای افغانستان درپی بیش از سه دهه جنگ، حیاتی است و نیز توافق دارند که افغانستان در سال های پس از " انتقال" همچنان نیازمندی های مالی مبرم، خاص و مداوم خواهد داشت که عواید داخلی به تنهائی پاسخگوی آن نمی باشد. در این خصوص، ایالات متحده بر تعهدش در کنفرانس 2011 ( 1390 ) بُن مبنی بر اینکه کمک های مالی اش در راستای انکشاف اقتصادی وکمک در رفع کمبود بودجوی افغانستان، در مطابقت با پروسه کابل به هدف حفظ دست آورد های یک دهه گذشته، تامین غیرقابل برگشت روند انتقال و خود کفائی افغانستان به کار رود ، مجدداً تأکید میکند.

2. در بُعد اقتصادی:

الف. طرفین به مساعی خود جهت تحکیم و توسعه اقتصاد بازار و همکاری های دراز مدت به هدف رشد مداوم اقتصادافغانستان در روشنی قانون اساسی و واقعیت های تاریخی و اجتماعی افغانستان، ادامه می دهند.

ب. با توجه به اولویت های افغانستان، ایالات متحده در تقویت بنیاد اقتصادی، حمایت از انکشاف پایدار و

خود کفایی افغانستان خصوصاً در ساحات تولیدات مشروع زراعتی؛ ایجاد زیربنا در بخش های ترانسپورت، تجارت، ترانزیت، آب و انرژی؛ تقویت مدیریت مسوولانه منابع طبیعی؛ و ایجاد نظام نیرومند مالی که برای تداوم سرمایه گذاری خصوصی لازم می باشد، کمک می کند.

ج. به هدف تشویق تجارت و انکشاف سکتور خصوصی، طرفین در استفاده روزافزون از سند موسوم به "سیستم عمومی ترجیحات"، مشترکاً تلاش میکنند. علاوتاً، به منظور تشویق سرمایه گذاری، ایالات متحده مصمم است که اداره سرمایه گذاری های خصوصی در خارج، بانک صادرات و واردات ایالات متحده و اداره تجارت و توسعه ایالات متحده را بسیج نموده تا فعالیت های سکتور خصوصی ایالات متحده در افغانستان را حمایت و تشویق نمایند. افغانستان نیز از طریق نهاد های مربوطه، از توسعه سکتور خصوصی خویش حمایت میکند.

د. طرفین بر آرزوی شان تصریح میدارند که مردم افغانستان باید مستفید شونده اصلی منفعت های منابع طبیعی کشور شان باشند. ایالات متحده از تلاش های افغانستان در جهت مدیریت ثروت منابع طبیعی از طریق ایجاد یک چارچوب پاسخگو، موثر، کارا و شفاف با استفاده از بهترین روش های بین المللی و تقویت این روشها، حمایت میکند.

3. در بُعد اجتماعی: طرفین تلاش های مداوم را مشترکاً جهت کمک به ارتقای ظرفیت بشری افغانستان، با استفاده از اقدامات زیر انجام می دهند:

الف. دسترسی و ارتقای کیفیت تعلیم و تربیه، به شمول تحصیلات عالی و آموزش های مسلکی برای تمامی افغانها در بخش های کلیدی ؛ و

ب. دسترسی به خدمات اساسی صحی و مراقبت های تخصصی ( بشمول دستیابی زنان و اطفال به این خدمات)

4. طرفین بر اهمیت حیاتی مبارزه با فساد اداری تأکید مینمایند:

الف. طرفین در برابر تمامی انواع و اشکال فساد اداری قاطعانه مبارزه می کنند؛

ب. طرفین میکانیزم هایی را جهت ارتقای مؤثریت کمک ها ایجاد نموده و با اتخاذ شیوه های بهتر تدارکات، شفافیت و حسابدهی، از فساد اداری جلوگیری می کنند؛

ج. افغانستان نهاد های مبارزه با فساد را تقویت بخشیده و قوانین مربوط را به اساس ضرورت در مطابقت با مکلفیت های ملی و بین المللی اش، بازنگری و تطبیق می کند.

د. افغانستان سیستم مالی خود را با تطبیق سفارشات گروه کاری اجراآت مالی آسیا پسیفیک در خصوص مبارزه با تطهیر پول و تمویل تروریزم، محافظت و تحکیم می بخشد.

5. ایالات متحده و افغانستان به همکاری های شان به منظور انکشاف افغانستان به شمول ارائه کمک سالانه اقتصادی و اجتماعی از جانب ایالات متحده به افغانستان، متناسب با اهمیت استراتیژیک همکاری میان دو کشور، ادامه می دهند.

الف. برای رسیدن به این هدف، ایالات متحده سالانه منابع مالی را جهت ارائه مساعدت اقتصادی و اجتماعی به افغانستان، تقاضا می نماید. ایالات متحده همچنان از تلاش های افغانستان برای جلب و تشویق سرمایه گذاری بین المللی و حمایت از سکتور خصوصی افغانستان که برای تحقق یک افغانستان و منطقه ی امن، مرفه وصلح مند حیاتی است، حمایت میکند.

ب. با تأکید بر تعهداتش در کنفرانس های سال 2010 در کابل و لندن (کنفرانس لندن در سال 1388 و کنفرانس کابل در سال 1389) ، ( پس از این کنفرانس ها)، ایالات متحده یکبار دیگر بر تعهد خویش تأکید میکند که حداقل ۵۰ درصد کمک‌های اقتصادی و اجتماعی خود به افغانستان را از طریق میکانیزم های بودجوی حکومت افغانستان به مصرف برساند. طرفین این تعهد را از طریق کمیسیون دوجانبه افغانستان - ایالات متحده که بر اساس این

موافقتنامه تشکیل میگردد، در اوقات معین مورد بازنگری قرار می دهند تا به این ترتیب فیصدی کمک هایی که از طریق میکانیزم های بودیجوی حکومت افغانستان پس از سال ۲۰۱۲ (سال 1391) به مصرف میرسد، افزایش یابد.

ج. ایالات متحده بر تعهد خویش در کنفرانس سال ۲۰۱۰ (سال 1389 ) کابل مجدداً تاکید میدارد که کمک‌های انکشافی خود به افغانستان را همچنان همسو با برنامه های دارای اولویت ملی، طبق توافق قبلی طرفین، طوری تنظیم نماید که تا ختم سال ۲۰۱۲ (ماه جدی سال1391) هشتاد در صد کمک‌های ایالات متحده در سازگاری با این برنامه ها به مصرف برسد. ایالات متحده موافق است تا آن مقدار از کمک‌های انکشافی اش را که در همنوائی با برنامه‌های دارای اولویت ملی افغانستان به مصرف نمیرسند بگونه شفاف به مصرف رسانده و در مصرف آن با دولت افغانستان مشورت کند.

د. این تعهدات وابسته به اقدام حکومت افغانستان در ایجاد میکانیزم ها و پیشرفت ها در راستای تأمین شفافیت و حسابدهی مالی، افزایش در مصرف بودجه ، بهبود در جمع آوری عواید، تقویت سیستم های مدیریت مالی عامه و سایر اقدامات دوجانبه میگردد که جهت ارزیابی اجراآت و پیشرفت ها بر آن از قبل توافق شده است. این اقدامات همچنان شامل تعهداتی میگرددکه در "کنفرانس ها" روی آن توافق شده اند.

۶. طرفین روابط دیرینه بین مردمان و جوامع مدنی شان را با تلاش های گسترده ، به شمول تدویر برنامه‌ها برای جوانان و زنان، و همکاری بین پوهنتون ها و نهادهای تحصیلات عالی، تقویت می نمایند.

۷. ایالات متحده تبادلات و سایر فعالیت ها، به شمول ارائه فرصت های آموزشی مانند پروگرام فلبرایت و برنامه آموزش مهارت های رهبری برای مهمانان بین‌المللی را توسعه و تقویت می نماید.

۸. طرفین همچنان در حمایت از نهادهای فرهنگی و حفظ میراث فرهنگی افغانستان همکاری می نمایند.

## بخش ششم: تقویت نهادها و حکومتداری در افغانستان

۱. طرفین برای بهبود ظرفیت بشری در نهادهای مهم دولت افغانستان همکاری می نمایند. کمک ایالات متحده باید براساس اولویت های حکومت افغانستان و مبتنی بر نیاز هایی باشد که از سوی طرفین مشترکاً شناسائی شده است.

۲. افغانستان امور حکومتداری را با بلند بردن میزان پاسخدهی و شفافیت در نهاد های سه گانه ( اجرائیه، مقننه و قضائیه ) بهبود می بخشد، تا آنها بتوانند نیازمندی های مدنی و اقتصادی مردم را بهتر مرفوع بدارند. افغانستان همچنان طبق قوانین نافذ خود،کفایت کاری و حسابدهی را در همه سطوح حکومت تقویت نموده و اطمینان حاصل می نماید که این ادارات و نهاد ها براساس طرزالعمل های درست و عادلانه متناسب با معیارهای ملی ارائه حداقل خدمات وکار شان را انجام دهند.

3. ایالات متحده در تقویت ظرفیت، خودکفائی و افزایش مؤثریت نهادهای دولت افغانستان و توانمندی آنها در ارائه خدمات اساسی، از حکومت افغانستان حمایت میکند.

۴. طرفین باهم مشترکاً کار می نمایند تا "ساختار های موازی" به شمول تیم های بازسازی ولایتی و تیم های موسوم به "باثبات سازی ولسوالی ها"، طبق چارچوب پروسه انتقال از میان برداشته شوند.

## بخش هفتم: تدابیر و میکانیزم های تطبیق موافقتنامه

۱. طرفین به منظور توسعه همکاری ها و نظارت بر پیشرفت ها در تطبیق این موافقتنامه، یک کمیسیون دوجانبه افغانستان - ایالات متحده و میکانیزم های لازم را ایجاد می کنند.

الف. کمیسیون از جانب وزرای خارجه هر دو کشور و یا نماینده گان شان، ریاست گردیده و جلسات آن هر شش ماه یک بار به صورت دورانی در کابل و واشنگتن دایر می گردد.

- جمع های موجود دوجانبه، مانند جمع مشورتی امنیتی دوجانبه افغانستان- ایالات متحده، باید در چارچوب این ساختار مدغم گردند.

ب. یک کمیته اجراییوی مشترک چگونگی کار گروپ های کاری دایمی کارشناسان را که برای تطبیق این موافقتنامه تشکیل میشوند، رهبری کرده و در مورد به وزرأ گزارش می دهد.

- این گروپ های کاری از جانب وزرای مربوط یا نماینده گان شان، ریاست گردیده و به عنوان مرجعی برای مشورت های منظم میان مقامات ارشد روی مسایل مشترک مورد علاقه مطرح عمل می کند. این مسایل برعلاوه موارد دیگر شامل: تامین امنیت درازمدت، حمایت از توسعه اجتماعی، اقتصادی و روند دیموکراسی، و نیز تقویت نهادهای دولتی و حکومتداری در افغانستان میشوند.

ج. جلسات کمیته مشترک اجراییوی به منظور ارزیابی تهدیدات مشترک و گفتگو روی مسایل منطقوی مورد علاقه نیز به شکل منظم دایر می گردد.

۲. طرفین از طریق کمیسیون دوجانبه، سطح حمایت و کمک ها را مشترکاً تشخیص می نمایند.

3. افغانستان و ایالات متحده میتوانند جهت تطبیق این موافقتنامه، به تدابیر یا توافقات بیشتر درصورتی که لازم و مناسب پنداشته شود، مطابق به قوانین و مقررات مربوطه دو کشور متوسل شوند.

## بخش هشتم: احکام نهایی

۱. این موافقتنامه بعد از آن نافذ میگردد که طرفین از مجرای دیپلوماتیک در مورد تکمیل شرایط قانونی داخلی شان که به منظور انفاذ این موافقتنامه الزامی می باشد، به یک دیگر اطلاع بدهند. این موافقتنامه الی ختم سال 2024 میلادی ( سال 1403 هجری شمسی) مدار اعتبار است. طرفین میتوانند با موافقت کتبی مشترک، شش ماه قبل از تاریخ انقضاء این موافقتنامه را برای یک دورهٔ دیگر طبق توافق قبلی تمدید نمایند. این موافقتنامه میتواند با موافقت کتبی هردو طرف در هر زمانی تعدیل یا فسخ گردد و هر یک از طرفین میتواند در مورد تصمیم اش برای فسخ این موافقتنامه یادداشت کتبی ارایه نماید، که در

آنصورت این موافقتنامه برای مدت یک سال پس از ارایه این یادداشت اعتبار دارد.

۲. تمامی اقداماتی که طبق مفاد این موافقتنامه اجرا میگردد باید در مطابقت با تعهدات و مکلفیت های بین‌المللی طرفین قرار داشته باشد. هر گونه همکاری طبق احکام این موافقتنامه تابع قوانین و مقررات دو طرف، به شمول قوانین نافذه تخصیص بودجه ، میباشد.

۳. هرگونه منازعات ناشی از تطبیق این موافقتنامه از طریق مشورت های دیپلوماتیک میان طرفین حل و فصل می گردد.

این موافقتنامه از جانب روسای ، جمهوری اسلامی افغانستان و ایالات متحده آمریکا به تاریخ.دوم. ماه .می. سال 2012 (.۱۳...ماه ثور.سال 1391 ) در شهرکابل در سه نسخه به زبانهای پشتو، دری و انگلیسی، که هرسه دارای اعتبار مساوی میباشند، امضا گردید.

| | |
|---|---|
| **از جانب دولت ایالات متحده امریکا** | **از جانب دولت جمهوری اسلامی افغانستان** |

# د امریکا د متحده ایالاتو او د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت
# ترمنځ د اوږدمهاله ستراتیژیکو همکاریو موافقتنامه
## لومړی برخه
## سریزه

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت (وروسته ترد ، افغانستان) او د امریکا د متحده ایالاتو دولت (وروسته ترد ، متحده ایالات) له 2001 م/1380 هـ ش کال را پد خوا، نړیوال امنیت او سولې ته د متوجه تهدیداتو د دفع په منظور او هم د افغانستان له خلکو سره د مرستې لپاره - چې يې امن، دموکراتیکه او سوکاله آینده تامین کړي - په ډېره نزد همکارۍ کې واقع دي چې حاصل يې نن د پایه دار امنیت په مسیر کې د افغانستان واقع کېدل، حکومتداري، اجتماعي او اقتصادي توسعه او د سیمې په سطح جوړوونکې همکاري دي.

دواړه لوري، د 2011 م/1390 هـ ش کال د نومبر د میاشتې د عنعنه يي لويي جرګې د سپارښتنو قدرداني کوي، د سپارښتنو په یوه برخه کې راغلي دي:

"د تیرو لسو کلونو د لاسته راوړنو د حفظ اړتیا ته پر تاکید، د افغانستان اساسي قانون، د ښځو حقوقو او د بیان آزادي ته په احترام او پرمنطقه حاکم وضعیت ته په پاملرنه، د هیواد د سیاسي، اقتصادي او نظامي امنیت د تامین په منظور، د امریکا له متحده ایالاتو سره چې د افغانستان د خلکو او نظام یو ستراتیژیك دوست دی، ستراتیژیکې همکارۍ ضروري ګڼل کیږي. د امریکا له متحده ایالاتو سره د ستراتیژیکو همکاریو د سند لاس لیك زیات اهمیت لري. دا سند به د افغانستان له ملي ګټو سره همآهنګ وي. دا سند به - د ملګرو ملتونو د سازمان له منشور سره سم - افغانستان او امریکا د دوو مستقلو او آزادو هیوادونو په حیث لاسلیک کوي."

پرخپلې دغې ګډې ارادې په تاکید سره چې د یو مستقل، باثباته، د هیواد پر اساسي قانون او مشترکو دموکراتیکو ارزښتونو ولاړ دولت د لرلو په منظور چې د ښځو او نارینه وو د حقوقو او اساسي آزادیو احترام پکې کیږي، د افغانستان د خلکو دهیلو د تحقق لپاره، افغانستان او د امریکا متحده ایالات (تردې وروسته، دواړه لوري) تعهد کوي چې خپله اوږدمهاله ستراتیژیکه همکاري د سولې، امنیت او ملي روغې جوړې د ټینګښت، د دولتي بنسټونو د پیاوړتیا، د افغانستان د اوږدمهاله اقتصادي او اجتماعي توسعې د ملاتړ، د سیمه ییزې همکارۍ په شمول، د علاقې وړ نورو ګډو ساحو کې پیاوړي کړي. په 2010 م کال د کابل او لندن په کنفرانسونو کې (1388هـ ش کال کې د لندن کنفرانس، او 1389 هـ ش کال د کابل کنفرانس) او همدا راز د بن د 2011 م /1390 هـ ش کال په کنفرانسونو کې د خپلو تعهداتو د دوامداره اهمیت

په رعایت سره دواړه لوري د اوږدمهاله ستراتیژیکو همکاریو د پراختیا په منظور، د افغانستان د دولتي موسساتو او د حکومتداری د ظرفیتونو د پیاوړتیا لپاره پر خپله اراده تاکید کوي.

د افغانستان او د امریکا د متحده ایالاتو ترمنځ همکاري د متقابل احترام او ګډو منافعو پر بنسټ او په خاص ډول د سولې د تحقق لپاره د دواړو خواوو د هیلو پر تحقق ولاړه ده. دد همکاریو هدف د یو داسې سیمې د لرلو لپاره د هڅې پیاوړتیا ده چې په هغې کې اقتصادي همګرایی تحقق موندلی وي، د القاعده او له هغې سره د تړلیو ډلو لپاره نور د امن پناهګاه نه وي.

افغانستان او متحده ایالات پرداسې تعهد او باور دا همکاری پرمخ بیایي چې وکولای شي دد همکاری له لیار د افغانستان د خلکو لپاره پرعدالت، سوله او امنیت بنا آینده او هم نور لازم فرصتونه برابر کاندي.

ملي حاکمیت ته درناوی او د دولتونو برابري ددې همکاریو بنیاد جوړوي. د قانون حاکمیت ته احترام او همدارنګه د افغانستان د اساسي قانون او نورو ټولو قوانینو صریح او څرګند رعایت ددې همکاریو بنسټونو ته قوت بخښي. دواړه لوري د افغانستان د ملي حاکمیت، استقلال، ارضي تمامیت او ملي وحدت د خوندي تابه په وړاندې پر خپل پیاوړي تعهد، تاکید کوي.

لوړو یادو شویو مواردو ته په پاملرنه دواړه لوري پر لاند مواردو توافق کوي:

## دویمه برخه
## د ګډو دموکراتیکو ارزښتونو ساتنه او پیاوړتیا

1. دواړه لوري موافق دي چې د بشري حقوقو اوګډو دموکراتیکو ارزښتونو ساتنه او پیاوړتیا ددوی د اوږدمهاله همکاریو بنیادي پایې جوړ کړ دي.

2. افغانستان، د یو جامع او کثرت ګرا حکومتداری او د آزادو، منصفانه او شفافو انتخاباتو د تدویر لپاره - چې د افغانستان ټول خلك پکې له داخلي او خارجي مداخلي پرته ګډون وکړي - متعهد دی او پد برخه کې د خپل اساسي قانون د بنیادي او محوري اصولو پر اهمیت تاکید کوي. د بن د 2011 م/1390 هـ ش کال د کنفرانس د تعهداتو په درك سره یو ځل بیا څرګندوي چې افغانستان باید د انتخاباتو پروسه تقویه او ښه کړي.

3. افغانستان د بشري او سیاسي حقوقو د حمایت په برخه کې د سیاسي او مدني حقوقو د نړیوال میثاق په شمول د خپل اساسي قانون مطابق پر خپلو ژمنو او هم پر خپلو بین المللي مکلفیتونو یوځل بیا تاکید کوي. پد خصوص کې افغانستان د متمرکز حکومتي نظام پربنسټ د دولت د در ګونو قواوو د کفایت او موثریت د لا ټینګښت په منظور، د دموکراتیکو بنسټونو او پروسو د تمامیت او ظرفیت لپاره

موثرگامونه پرمخ اخلي. د آزادو رسنيو په شمول د يو  خوخنده او فعالي مدني ټولنې غوړيدا، تقويه کوي.

4. افغانستان، د ټولو هغو آزاديو او حقوقو د تامين لپاره چې اساسي قانون او نورو قوانينو يې تضمين کړي دي او هم دد  اصل پر تحقق چې د افغانستان د اتباعو ترمنځ هر ډول تبعيض او امتياز منع دی پرخپلو تعهداتو يو ځل بيا تاکيد کوي. افغانستان به د اساسي قانون له احکامو او خپلو نړيوالو مکلفيتونو سره سم، په ټولنه کې د ښځو ارزښتمن نقش په داسې ډول تامين او پراخ کړي څو دوی وکولای شي له خپلو اقتصادي، اجتماعي، اساسي، مدني او فرهنگي حقوقو برخورداره شي.

## دريېمه برخه
## د اوږدمهاله امنيت تحکيم

1. دواړه لوري يو ځل بيا تاکيد کوي چې له 2001 م/1380 هـ ش کال را په د  خوا په افغانستان کې د امريکا د متحده ايالاتو د قواوو حضور او اجراآت د القاعده او له د  ډلې سره د ترليو ډلو د ماتې لپاره وو. دواړه لوري ددغو کلونو په اوږدو کې له تروريزم سره په مبارزه کې د افغانستان د خلکو بې شماره قربانيو او رنځ ته درناوی کوي او هم هغه پرله پسې تهديدونه چې سولې، امنيت او سوکالۍ ته د رسيدو لپاره ددوی د هيلو د تحقق مانع وو (دواړو لوريو) ته د درك وړ دي. دواړه لوري همدارنگه پد  مبارزه کې د امريکا د متحده ايالاتو د قربانيو قدرداني کوي.

2. په افغانستان کې د امنيت او ثبات د ټينګښت، د سيمه ييز او نړيوال ثبات سره د مرستې، له القاعده او ور پورې ترليو ډلو سره د مبارز  په منظور او هم د افغانستان د ملي حاکميت، امنيت او ارضي تماميت په وړاند  د موجودو تهديداتو د دفع لپاره د افغانستان د توان د زياتولو په منظور ـ د جانبينو د پريکړ  له مخې ـ د دفاعي او امنيتي تدابيرو له لار  دواړه لوري خپلو هڅو ته همدا شان دوام ورکوي.

الف: په د  موافقتنامه کې د دواړو لوريو مکلفيتونه او نور هر ډول وروستي تدابير، د افغانستان د خاور  دننه پر ملي حاکميت اثر نه لري او هم د بين المللي حقوقو مطابق له دواړو لوريو د مشروع دفاع حق نه اغيزمنوي.

ب: دواړه لوري له خپلو داخلي طرزالعملونو سره سم پريو  "دوه جانبه امنيتي موافقتنامې" مذاکرات پيلوي. دا مذاکرات د ستراتيژيکو همکاريو ددغې موافقتنامې له لاس ليك وروسته پيلېږي او هدف دادی چې په يو کال دننه بشپړ شي. دا امنيتي موافقتنامه به په افغانستان کې د متحده ايالاتو د امنيتي پرسونل ـ چې له تروريزم سره د مبارز ، د ملکي او بشردوستانه مرستو او د نظامي تمريناتو او تعليم او نورو فعاليتونو په منظور راغلي دي- د حضور د څرنگوالي د 2003 م کال

(1382 هـ ش کال) موافقتنامې او هم د نورو هغو توافقاتو او تفاهماتو ځای ونیسي چې دواړه لوري يې د دوه جانبه امنيتي موافقتنامې د احکامو مغاير وبولي.

ج: روان نظامي عمليات به په موجودو عملياتي چوکاټونو کې چې د (2012م/1390هـ ش کال) د امريکا د متحده ایالاتو د توقيفخانو د انتقال او د (2012م/1391 هـ ش کال) د ځانګړو عملياتو د افغاني کولو تفاهمنامې يې برخه بلل کيږي دوام مومي، ترهغه وخته چې دغه چوکاټونه د "دوه جانبه امنيتي موافقتنامې" او يا نورو تدابيرو له ليار ـ د دواړو لوريو په موافقه ـ دهغو ځای ونيسي. دا مکلفيت ـ ځنګه چې دمخه ووېل شول- دهغه تر الغا پورې په پورته ياد شوي چوکاټ کې د دواړو خواوو پر تعهداتو او تفاهماتو اغيز نه ښندي.

3. د امنيتي او دفاعي اوږدمهاله متقابلو همکاريو د يو چوکاټ د ايجاد په منظور، متحده ايالات، افغانستان "له ناتو د باندې د خپل يو عمده متحد" په توګه ګڼي.

4. دواړه لوري، د سولې او مصالحې په لاره کې د افغانستان له هڅو پر پياوړې ملاتړ تاکيد کوي.

الف: هغه افراد او ډلې کولای شي د سولې او مصالحې روان جريان ته ور داخل شي چې له القاعده سره خپله رابطه پرې کړي؛ له خشونته لاس واخلي، د افغانستان اساسي قانون ته او هم د ټولو ښځو او نارينه وو حقوقو ته د اساسي قانون د ضمانتونو پر بنسټ، احترام وکړي.

ب: افغانستان تاکيد کوي چې د سولې او مصالحې د تحقق لپاره په ټولو دولتي تفاهماتو او اقداماتو کې د افغانستان په اساسي قانون کې مندرج ارزښتونه رعايت کړي.

5. تر 2014 م/1393هـ ش کال وروسته، متحده ايالات د افغانستان د امنيتي قواوو د تعليم، تجهيز، مشورت او تداوم په منظور هرکال د پولي منابعو غوښتنه پدې منظور کوي څو افغانستان وکولای شي په مستقلانه ډول د داخلي او خارجي تهديداتوپه وړاندې خپله دفاع وکړي، خپل امنيت تامين کاندي او ترووريستان بيا و نه کولای شي چې د افغانستان خاورې ته رخنه وکړي او پدې توګه افغانستان، سيمې او نړۍ ته تهديد متوجه کړي.

الف: دا حمايت لاندې موارد را چاپيروي:

(1) د تهديداتو، تغيير منونکې ماهيت ته په پاملرنه، د هغو تهديداتو لپاره د مناسبو امکاناتو برابرول چې يې دواړه لوري دافغانستان د ثبات په وړاندې خطر وګڼي.

(2) له هغو هڅو ملاتړ چې په نتيجه کې يې افغانستان د يو ټلپاتې امنيتي جوړښت خاوند شي.

(3) د افغانستان د امنيتي بنسټونو د ظرفيت تقويه.

ب: دد موافقتنامې پر بنسټ " د دفاع او امنيت په چارو کې د افغانستان او امريکا کاري ګروپ" ايجادېږي. دا ګروپ وظيفه لري چې افغانستان ته د متوجه تهديداتو سطح او هم دد هيواد دفاعي او امنيتي اړتياو ارزيابي کړي او د آينده همکاريو د څرنګوالي په برخه کې دوه جانبه کميسيون ته مشخصې سپارښتنې وړاندې کړي.

ج: د افغانستان ملي امنيتي قواوو ته مرستې بايد په داسې ډول وړاندې شي چې د ناټو له معيارونو سره سازګاري ولري او د ناټو له قواوو سره د تعامل پذيرۍ، اصل پياوړی کړي.

د: دواړه لورې په همدې ډول د ناټو له غړيو هيوادونو څخه غواړي چې "له ناټو سره د افغانستان د اسلامي جمهوريت د اوږدمهاله همکاريو اعلاميې"د 2010 م/1389 هـ ش کال نومبر، لزبن د تطبيق لپاره عملي اقدامات وشي او تر 2014 م/1393هـ ش کال وروسته د افغانستان امنيتي وړتياو دوامداره او ښې کړي.

6. له القاعده او ورسره تړليو ډلو سره د مبارزې، د افغانستان د ملي امنيتي قواوو د روزنې او نورو ماموريتونو - چې يې دګډو امنيتي ګټو د تحکيم لپاره دواړه لورې مشخصوي- د اجراء په منظور، افغانستان د متحده ايالاتو قواوو ته تر 2014 م/1393هـ ش کال پورې د دوامدار استفادې زمينه برابروي او هم وروسته تردې نيټې - څنګه چې به په "دوه جانبه امنيتي موافقتنامه" کې پرې موافقه کيږي- په هماغه ډول عمل پرې وشي.

الف: متحده ايالات، د افغانستان ملي حاکميت او استقلال ته پر خپل بشپړ احترام تاکيد کوي. د انتقال د جريان چوکاټ او افغانستان ته د بشپړ امنيتي مسووليت د انتقال تحقق ته خپل تعهد يو ځل بيا څرګندوي. متحده ايالات بيا هم تاکيد کوي چې په افغانستان کې د دايمي تاسيساتو د ايجاد په لټه کې نه دي او نه هم د داسې حضور په هڅه کې دي چې د افغانستان ګاونډيانو ته تهديد متوجه کاندي.

ب: متحده ايالات ژمنه کوي چې د افغانستان له خاورې او يا تاسيساتو د نورو هيوادونو په وړاندې د بريدونو د پيل د نقطې په توګه استفاده نه کوي.

ج: په افغانستان کې د متحده ايالاتو د قواوو آينده څرنګوالی، حدود او په دې رابطه د دواړو هيوادونو و جايب به په "دوه جانبه امنيتي موافقتنامه" کې مشخص شي.

7. د تروريـزم، د مخـدره مـوادو د قاچـاق، سـازمان يافتـه جرايمـو او د پيسـو د سـپينولو پـه شـمول، لـه ګـډو تهديـداتو سـره د مقـابلې پـه منظـور بـه دواړه لورې خپل اطلاعات او استخبارات سره شريکوي.

8. دواړه لوري، د سيمه ييزو امنيتي همآهنګيو او همکاريو پر بهبود تاکيد کوي او څرګندوي چې د مخدره موادو توليد، قاچاق او له دغو توکو غير مجاز استفاد د افغانستان امنيت او اقتصاد ته ستر تهديد متوجه کړی او همدا راز يې د سيمې امنيت او د نړۍ سلامت له خطر سره مخامخ کړی دی. دواړه لوري مصمم دي چې ددغه تهديد د محو لپاره په افغانستان او سيمه کې او هم له ګاونډيو هيوادونو سره همکاري وکړي.

9. په پوهه چې د افغانستان ثبات د جنوبي آسيا او مرکزي آسيا د ثبات او ترقي لپاره مهم دی، متحده ايالات تاکيد کوي چې په افغانستان باند هر دول تجاوز د خپلې شديد انديښنې باعث بولي.

ددغسې يو پيښې د وقوع په صورت کې به دواړه لوري په عاجل ډول يو له بل سره په مشوره کې د سياسي، ديپلوماتيکو، اقتصادي او نظامي اقداماتو په شمول - د دواړو لوريو په توافق او د دواړو هيوادونو د اساسي قوانينو د احکامو مطابق - پيښې ته مناسب ځواب طرح او تطبيق کړي.

## څلورمه برخه
## سيمه ييزې همکارۍ او د امنيت پياوړتيا

1. دواړه لوري، له افغانستان سره د ګاونډيانو د موثرو او دوستانه روابطو پر اهميت موافق دي او تاکيد کوي چې دا روابط بايد د متقابل احترام او يو د بل په چارو کې د نه مداخلې پر بنسټ ولاړ وي. دواړه لوري له ټولو هيوادونو څخه غواړي چې د افغانستان ملي حاکميت او ځمکنې بشپړتيا ته احترام ولري. د افغانستان په داخلي چارو او دموکراتيکو پروسو کې له مداخلې اجتناب وکړي.

2. د سيمه ييزو همکاريو اهميت ته په پاملرنه، په سيمه کې د امنيت د ټينګښت لپاره، دواړه لوري د سيمې له هيوادونو، سيمه ييزو سازمانونو، ملګرو ملتونو او نورو بين المللي بنسټونو سره، د تروريستي شبکو، سازمان يافته جرايمو، د مخدره موادو د قاچاق او د پيسو د سپينولو په شمول، له دواړو لوريو د تشخيص شويو تهديدونو په وړاند جدي همکاري کوي.

3. دواړه لوري د سيمه ييز ثبات او سوکالی په منظور، د مرکزي او جنوبي آسيا او منځني ختيز ترمنځ د ارتباطي پله په توګه د افغانستان د تاريخي نقش د احيا لپاره په لاند توګه همکاري کوي:

الف: په سيمه کې د اوسنيو او وروستيو ابتکاراتو لازيات تشويق، لکه: د تجارت او ترانزيت موافقتنامي او په تطبيق کې يې سهولت ايجادول.

ب: د افغانستان او ګاونډيانو ترمنځ د سرحداتو د همآهنګی او مديريت تقويه.

ج: پـه ټـول افغانسـتان کـې د زیربنـایي پـروژو د تطبیـق پـه شـمول، پـه سـیمه کـې د پـروژو د تطبیـق لـه لارې د ترانسـپورت، ارتباطـاتو، ترانزیـت او د انرژۍ د شبکو پراختیا.

د: د سـیمه ییـزې پانګـه اچـونې د هڅـونې لپـاره د نړیـوال حمایـت جلبـول چـې له سیمې سره د افغانستان د همګرایی سبب کیږي.

## پنځمه برخه
## اقتصادي او اجتماعي انکشاف

1. دواړه لوري موافق دي چې د افغانستان د بشري او طبیعي منـابعو انکشـاف د سیمه ییز ثبات او د پایـه دارې اقتصـادي ودې او تـر دې لسیزو جنګ وروسـته د افغانسـتان د احیـا لپـاره حیـاتي ارزښـت لـري او هـم دواړه لـوري توافـق لـري چـې افغانسـتان بـه تـر انتقـال وروسـته کلونـو کـې هـم مـبرمې، مـداومې او خاصـې مـالي ارتیـاوې ولـري چـې یـوازې داخلـي عوایـد ورتـه بسـنه نـه کـوي. متحـده ایـالات پـدې خصوص کې د بن د 2011م/ 1390 هـ ش کال په کنفرانس کې پر خپل هغه تعهد یو ځل بیا تاکید کوي چې یې د کابل لـه پروسې سره په مطابقت کې، د ا قتصادي انکشـاف او د بودجـوي کمبـود د پـوره کولـو او د تیـرې لسیزې د لاسـته راوړنـو د حفظ، د انتقال د په شا نه تلونکي جریـان د تـامین او د افغانسـتان د خودکفاکیدو پـه منظور کړی دی.

2. په اقتصادي بعد کې:

الـف: د افغانسـتان د اساسـي قـانون او د هیـواد د اجتمـاعي او تـاریخي واقعیتونـو پـه رڼـا کـې د بـازار اقتصـاد او د اوږدمهالـه همکـاریو د توسـعي او تحکیم لپاره، دواړه لوري خپلو هڅو ته دوام ورکوي.

ب: د افغانستان لومړیتوبونو ته په توجه سره، متحده ایالات د اقتصادي بنسټونو د پیاوړتیا، د افغانسـتان لـه پایه دار انکشـاف او خودکفـایي ملاتـر، پـه خـاص ډول د مشروعو زراعتي تولیداتو په ساحه کې؛ د ترانسپورټ، تجارت، ترانزیت، اوبـو او انرژۍ په برخو کې د زیربناوو ایجاد او د طبیعي منابعو د مسوولانه مدیریت تقویه او د یو داسې پیاوړي مالي نظام لـه ایجاد سره - چـې د خصوصي پانګـه اچونې د تداوم لپاره لازم وي- مرسته کوي.

ج: د خصوصـي سـکتور او تجـارت د انکشـاف او تشـویق پـه منظـور دواړه لـوري" د ترجیحـاتو عمـومي سیسـتم" پـه نامـه سـند څخـه د زیاتیـدونکې استفادې لپـاره ګـډه هڅـه کـوي. سربیره پـردې د سرمایه ګذارۍ د تشویق پـه منظـور متحـده ایـالات تصـمیم لـري چـې پـه خـارج کـې د خصوصـي پانګـه اچـونې اداره، د متحـده ایـالاتو د وارداتـو او صـادراتو بانـک او هـم د متحـده ایـالاتو د توسـعي او تجـارت اداره و هڅـوی څـو پـه افغانسـتان کـې د متحـده

ايـالاتو د خصوصـي سـكتور فعاليتونـه حمايـت او تشـويق كـړي او افغانسـتان هـم د خپلـو مربوطـو نهـادونو لـه لار د خپـل خصوصـي سـكتور د پراختيـا ملاتړ كوي.

د: دواړه لوري څرګندوي چې د افغانستان خلك بايد د خپل هيواد د طبيعي زيرمو له ګټو مستفيد شي. متحده ايالات د طبيعي زيرمو د ثروت د مديريت په برخه كې، لـه بهترينو نړيوالـو روشونو څخـه پـه استفاده د يوه موثر، جوابده، كـار آمـد او شفاف چوكاټ د جوړولو لپاره د افغانستان د هڅو ملاتړ كوي.

3. په اجتماعي بعد كې:

دواړه لوري، د افغانستان د بشري ظرفيتونو لـه ارتقا سره د مرستې پـه خـاطر لـه لاندنيو اقداماتو څخه په استفاده، په مداوم ډول ګډو هڅو ته دوام وركوي.

الف: په كليدي برخو كې د عالي تحصيلاتو او مسلكي زده كړو پـه شمول، ښوونې او روزنې ته د ټولو افغانانو لاس رسي او د زده كړو د كيفيت ارتقا.

ب: اساسي صحي خدماتو تـه لاس رسی او تخصصي مراقبت (دغو خدماتو تـه د ښځو او كوچنيانو د لاس رسي په شمول).

4. دواړه لوري، له اداري فساد سره د مبارز پر حياتي اهميت تاكيد كوي:

الـف: دواړه لـوري، د اداري فسـاد د ټولـو انواعـو او اشـكالو پـه وړانـد قاطعانـه مبارزه كوي؛

ب: دواړه لـــوري، د مرســـتو د موثريـــت د لوړيـــدو لپـــاره ميكانيزمونـــه ايجـادوي، د تـداركاتو شـفافيت او د حسـاب وركولـو د يـو بهتـر طريقـې پـه رواجولو سره د اداري فساد مخنيوی كوي.

ج: افغانسـتان، لـه فسـاد سـره د مبـارز بنسـتونه تقويـه كـوي لـه ملـي او بـين المللـي مكلفيتونـو سـره پـه مطابقـت كـې د ضـرورت لـه مخـې پـه مربوطـه قوانينو باند له سره كتنه كوي او هغه تطبيقوي.

د: افغانستان، د پيسو د سپينولو او د تروريزم د تمويل په برخه كې د آسيا پسفيك د مـالي اجراآتـو د كـاري ډلـې د سپارښـتنو د تطبيـق لـه لار خپـل مـالي سيسـتم محافظه او تحكيموي.

5. د افغانستان دانكشاف په منظور به د متحده ايالاتو له خوا افغانسـتان تـه د كلنيو اقتصادي او اجتماعي مرستو په شمول، متحده ايالات او افغانستان خپلو همكاريو ته د دواړو هيوادونو د ستراتيژيكو همكاريو له اهميت سره متناسب دوام وركوي.

الف: دغه هدف ته د رسيدو په منظور متحده ايالات، هر كـال لـه افغانسـتان سره د اقتصادي او اجتمـاعي مسـاعدت پـه خـاطر د مـالي منـابعو غوښـتنه كـوي. همدا راز

متحده ایالات د بین المللي سرمایه گذارۍ د جلب او تشویق او د خصوصي سکتور د حمایت په برخو کې د افغانستان له هڅو ملاتړ کوي، ځکه دا هڅې د یو سوکاله افغانستان او دیو مرفه منطقي لپاره حیاتي دي.

ب: د 2010م کال د کابل او لندن په کنفرانسونوکي (1388 هـ ش کال کې د لندن کنفرانس او1389 هـ ش کال د کابل کنفرانس) ، (وروسته ترد "کنفرانسونه") کې پر خپلو تعهداتو په تاکید سره ، متحده ایالات یو ځل بیا تاکید کوي چې له افغانستان سره د خپلو اقتصادي او اجتماعي مرستو لږ تر لږه 50 په سلو کې د افغانستان د حکومت د بودجوي میکانیزمونو له لار مصرف کړي. دواړه لوري پر دغه تعهد، د افغانستان او متحده ایالاتو د دوه جانبه کمیسیون - چې دد موافقتنامې پر اساس جوړیږي- له لار په تاکلو وختونو کې بیا کتنه کوي، څو پد ترتیب دهغو مرستو په فیصدي کې چې د افغانستان د حکومت د بودجوي میکانیزمونو له لار د ۲۰۱۲ م/ 1391هـ ش کال وروسته مصرفیږي زیاتوالی راشي.

ج: متحده ایالات، د 2010 م/1389 هـ ش کال د کابل په کنفرانس کې پر خپله کړ ژمنه یو ځل بیا تاکید کوي چې افغانستان ته خپلې مرستې د دواړو لوریو له توافق سره سم داسې تنظیم کړي چې د ملي لومړیتوبونو لرونکیو برنامو کې مصرف شي او د 2012 م/1391هـ ش کال د جدي ترپایه د متحده ایالاتو 80 په سلو کې مرستې له پورته یادو شویو ملي برنامو سره په سازګارۍ کې مصرف شي. متحده ایالات موافقه لري چې دخپلو انکشافي مرستو هغه مقدار چې د افغانستان د ملي لومړیتوبونو لرونکو برنامو کې نه مصرفیږي په شفاف أول مصرف کړي او په مصرف کې یې د افغانستان له دولت سره مشوره وکړي.

د: دغه تعهدات د افغانستان د حکومت په اقدام پور اړه لري. د میکانیزمونو ایجاد، د شفافیت تامین، حساب ورکول، د بودجې په مصرف کې زیاتون، د عوایدو په ټولولو کې بهبود، د عامه مالي مدیریت د سیستمونو تقویه او نور دوه جانبه اقدامات چې د اجراآتو او پرمختګونو د ارزیابۍ لپاره پر دمخه توافق شوی دی. دا اقدامات همدارنګه هغه تعهدات را چاپیروي چې په "کنفرانسونو" کې پر توافق شوی دی.

6. دواړه لوري په پراخو هڅو د خوانانو او ښځو د برنامو په شمول، دخپلو خلکو او مدني ټولنې ترمنځ لرغوني روابط، د پوهنتونونو او عالي تحصیلاتو د موسسو ترمنځ همکارۍ، پیاوړ کوي.

7. متحده ایالات، اکادمیک تګ راتګ او مربوط فعالیتونه، د زده کړو د فرصتونو د ارائې په شمول، لکه د فولبرایت پروګرام او د بین المللي لیدنو-کتنو د پروګرام لپاره، د رهبرۍ د مهارتونو د زده کړ برنامه، پیاوړ او پراخوي.

8. دواړه لوري، همدارنګه له فرهنګي نهادونو د ملاتړ په برخه کې او هم د افغان فرهنګي میراثونو د ساتنې لپاره، همکاري کوي.

## شپږمه برخه
## په افغانستان کې د حکومتدارۍ د بنسټونو پیاوړتیا

1. دواړه لوري، د افغانستان د دولت د مهمو دولتي بنسټونو د بشري ظرفیت د ښه والي لپاره همکاري‌کوي. د متحده ایالاتو مرستې باید دافغانستان د حکومت د لومړیتوبونو پر اساس او دهغو اړتیاوو پر بناوې چې دواړو لوریو په ګډه په نخښه کړ دي.

2. افغانستان ، ددولت په دریو ګونو قواوو (اجرائیه، مقننه او قضائیه) کې د شفافیت او جوابدهۍ د میزان په لوړولو سره د حکومتدارۍ چار ښې کوي، څو دوی وکولای شي دخلکو مدني او اقتصادي اړتیاو په ښه ډول مرفوع کاندي.

افغانستان همدارنګه، له نافذه قوانینو سره سم د هیواد په مختلفو حکومتي سطوحو کې کاري کفایت او حساب ورکول پیاوړي کوي او دا ډاډ حاصلوي چې دا ادار او نهادونه د یو سم او عادلانه طرزالعمل پر اساس او له ملي معیارونو سره موازي، حد اقل خدمات او خپل کار سرته رسوي.

3. متحده ایالات، د ظرفیت د تقویې، خودکفایي او د اساسي خدماتو په ارائه کې د افغانستان د دولت د نهادونو د موثریت د زیاتوالي او او پیاوړتیا په هڅو کې، د افغانستان د حکومت ملاتړ کوي.

4. دواړه لوري په ګډه کار کوي څو"موازي جوړښتونه" د ولایتي بازسازۍ او "د ولسوالیو د با ثبات سازۍ" ټیمونه د انتقال د پروسې له چوکاټ بندۍ سره سم له منځه ولاړ شي.

## اوومه برخه
## د موافقتنامې د تطبیق تدابیر او میکانیزم

1. دواړه لوري، دد موافقتنامې د تطبیق، د همکاریو د پراختیا او له پرمختیاوڅخه د نظارت په منظور دافغانستان او متحده ایالاتو یو دوه جانبه کمیسیون او نور لازم میکانیزمونه ایجادوي.

الف: د کمیسیون ریاست د دواړو هیوادونو خارجه وزیران او یا دهغوی نماینده ګان کوي او غونډ یې په شپږو میاشتو کې یو ځل په دوراني ډول په کابل او واشنګټن کې دایرېږي.

- نور دوه جانبه ټولنې، لکه د افغانستان او متحده ایالاتو دوه جانبه امنیتي مشورتي مجمع باید دد جوړښت په ادانه کې مدغم شي.

ب: یوه ګډه اجرائیوي کمیټه، د کارپوهانو د دایمي کاري ګروپونو - چې دد موافقتنامي د تطبیق لپاره جوړیږي- د کار څرنګوالی رهبري کوي او په د برخه کې وزیرانو ته ګزارش ورکوي.

- دد کاري ګروپونو ریاست هم مربوطه وزیران یا دهغوی نماینده ګان کوي او د لوړو مقاماتو ترمنځ د منظمو مشورو د یو مرجع په توګه د علاقې وړ مشترک مسایل مطرح او عمل پر کوي. دا مسایل له خینو نورو مواردو سربیره: د اوږدمهاله امنیت تامین، له اقتصادي، اجتماعي توسعي او د دموکراسی له جریانه حمایت او هم په افغانستان کې د دولتي موسساتو او حکومتداری د بنسټونو پیاوړتیا را چاپیروي.

ج: د ګډ اجرائیوي کمیټي غونډ ، د ګډو تهدیداتو د ارزیابی او د علاقې وړ سیمه ییزو مسایلو په باب د خبرو په منظور په منظم ډول جوړیږي.

2. دواړه لوري، د دوه جانبه کمیسیون له لار ، د ملاتړ او مرستو سطح په ګډه تشخیصوي.

3. افغانستان او متحده ایالات کولای شي چې دد موافقتنامي د تطبیق لپاره - که چیر لازم او مناسب وګڼل شي- د دواړو هیوادونو له مربوطه قوانینو او مقرراتو سره سم، نورو زیاتو تدابیرو یا توافقاتو ته مخه کړي.

## اتمه برخه
## وروستي احکام

1. دا موافقتنامه هغه وخت نافذیږي چې دواړه لوري له دیپلوماتیکو مجاریو یو بل ته د موافقتنامي د خپلو داخلی قانوني شرایطوسره سم - چې د انفاذ لپاره یې الزامي دي- د تکمیل خبر ورکړي. دا موافقتنامه د 2024م /1403 هـ ش کال ترپایه اعتبار لري. دواړه لوري کولای شي د موافقتنامي د اعتبار د موده تر انقضاء شپږ میاشتي دمخه د ګډ کتبي موافقي له لیار دا موافقتنامه - د پخواني توافق سره سم- د یو بلي دور لپاره تمدید کړي. د دواړو لوریو د کتبي موافقت له مخې کیدای شي دا موافقتنامه هرکله او هر زمان تعدیل او یا فسخ شي. له دواړو لوریو څخه هر یو کولای شي د موافقتنامي د فسخ لپاره کتبي یادداشت ارائه کړي، په هغه صورت کې دا موافقتنامه د یادداشت د ارائي له نیټي وروسته یو کال نور اعتبار لري.

2. ټول هغه اقدامات چې دد موافقتنامي له موادو سره سم اجراء کیږي باید د دواړو لوریو له بین المللي تعهداتو او مکلفیتونو سره مطابقت ولري. دد موافقتنامي له احکامو سره سم هر ډول همکاری - د بودجې د تخصیص د نافذه قوانینو په شمول- د دواړو خواوو د قوانینو او مقرراتو تابع کیږي.

3. دد  موافقتنامې له تطبیقه راولاړ شوي هر ډول منازعات، د دوارو لوریو ترمنځ د ډپلوماتیکو مشورو له لار  حل و فصل کېږي.

دا موافقتنامه د افغانستان داسلامي جمهوریت او د امریکا د متحده ایالاتو د جمهورو رئیسانو له خوا د 1391 هـ ش/ 2012 م کال د مې میاشتې په نیته، ۲ د کابل په ښار کې په دریوو نسخو کې په پښتو، دري او انګلیسي ژبو لاس لیك شوه، درې واړه نسخې مساوي اعتبار لري.



د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت له خوا

د امریکا د متحده ایالاتو د دولت له خوا

